دا احکام ټول هغه کار کوونکي لپاره دي چې د SEATTLE سیاټل ښار په حدودو کې کار کوي، د کار کوونکو د کډوالۍ حالت او یا د کار ګمارونکي موقعیت ته له کتو پرته تر خپل پوښښ لاندې نیسي.

ګمارونکي باید دا قوانین رعایت کړي. غچ اخیستنه غیر قانوني ګڼل کیږي.

# په Seattle سیاټل کې د کار د مقرراتو معیارونه 2024

د Office of Labor Standards (د کار د معیارونو دفتر)، په متفکرانه ډول د ټولنې او سوداګرۍ د ګډون، د نوښتیزو سیاستونو د پلي کولو پراختیا له لارې او نژاد او ټولنیز عدالت ته په ژمنې سره د کار د معیارونو لوړول دي.

دا پوستر باید د کار ځای په یوه د پام وړ سیمه کې په انګلیسي او نورو هغو ژبو چې کار کوونکي پرې خبرې کوي وښودل شي.

Office of Labor Standards لیکلې ژباړه، شفاهي ژباړه او معلولیت لرونکو اشخاصو ته یو شمېر آسانتیاوې چمتو کوي.

## لږ تر لږه معاش

### د کار کوونکو لپاره لږ تر لږه معاش ټاکي

**د ګومارونکي د کار کوونکو شمېر**

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ګمارونکي د کار کوونکو مجموعي شمېر و شمېرئ. د مجوز استازي لپاره، د شبکې ټول کار کوونکي وشمېرئ.

**روغتیايي ګټې - کوچني کار ګمارونکي**

د ساعت پر سر د تر ټولو کمې بیې د ا دا کولو لپاره، د کوچني ګومارونکي اداینې باید د روغتیایي ګټو د پروګرام لپاره د نقرې او یا له هغې په لوړه کچه وي چې د فدرال Affordable Care Act په واسطه تعریف شوي دي.

**لوی ګومارونکي**
(501 او یا له دې زیات کار کوونکي)

**$19,97**
په یوه ساعت کې

**کوچني ګومارونکي**
(500 او یا له دې څخه کم کار کوونکي)

آیا ګمارونکی لږ تر لږه په یوه ساعت کې د کار کوونکي لپاره د روغتیایی ګټو په موخه 2.72 ډالر ور کوي او یا کار کوونکی لږ تر لږه په یوه ساعت کې 2.72 ډالر انعام اخلي؟

| نه | هو |
|---|---|
| $19,97<br>په یوه ساعت کې | $17,25<br>په یوه ساعت کې |

» یو کوچنی ګومارونکی په هغه صورت کې نه شي کولای کمه اداینه ترسره کړي چې کار کوونکي بډه وکړي او د روغتیایي ګټو په شرایطو برابر نه وي.

## د ناروغۍ او خوندیتوب په حالتونو کې اداینه ترسره شوې ده

### د روغتیايي او یا خوندیتوب ستونزو له امله له معاش سره رخصتۍ ته اړتیا لري.

ګومارونکي باید کار کوونکی ته له خپل ځان او یا د کورنۍ یوه غړي ته د پاملرنې په موخه له معاش سره رخصتي ور کړي.

(زوي/لور، میرمن، د ژوند ثبت شوی شریک، نیکه او نیا، لمسی، خور او ورور)

**د ناروغۍ وخت:** د جسمي او رواني روغتیا یو حالت دی، له هغې د روغتیايي لیدنې وخت

**د خوندیتوب وخت:** د کورني تاوتریخوالي، جنسي تیري، تعقیب او یا عمومي روغتیايي مسایلو اړوند دلایل*

**د ناروغۍ او خوندیتوب په حالتونو کې داینې اندزه (PSST)**

| | ردیف 1 | ردیف 2 | ردیف 3 |
|---|---|---|---|
| **د ګومارونکي د کار کوونکو شمېر**<br>په ټوله نړۍ کې (FTEs) د ټول وخت معادل کار کوونکي | تر 49<br>FTEs | 249 – 50<br>FTEs | +250<br>FTEs |
| **د ناروغۍ او خوندیتوب په حالتونو کې داینې ژمنه (PSST)**<br>د ساعت پر بنسټ کار | 1 ساعت<br>په هرو 40 ساعتونو کې | 1 ساعت<br>په هرو 40 ساعتونو کې | 1 ساعت<br>په هرو 30 ساعتونو کې |
| **د ناروغۍ او خوندیتوب په حالتونو کې نه کارول شوې داینې (PSST) ولېږدوئ**<br>په هر کال کې | 40 ساعتونه | 56 ساعتونه | 72 ساعتونه** |

*همدراز کېدلی شي د خوندیتوب له وخت څخه د کورنۍ یو غړي ته د پاملرنې په موخه کار واخیستل شي

**د 3 ردیف ګومارونکو لپاره رخصت او یا معاش د 108 ساعتونو پالیسي (PTO)

## عادلانه کاري فرصت

### د محکومیت یا نیولو کېدو له سوابقو څخه کار اخیستل محدودوي

**منع ګرځول شوي دي:**

- د هغو متقضایانو د ندو اعلانونه لرې کوي چې د محکومیت او نیول کېدو سابقه لري.
- د دندو غوښتنې د محکومیت یا نیولو کېدو اړوند پوښتنو سره، مګر دا چې ګومارونکي له وړاندې متقاضي د لږ تر لږه صلاحیتونو له اړخه ارزولی وي.
- یوازې د نیولو کېدو د سابقې له امله له دندې څخه انکار (یا نور نامطلوب اقدامات)

یو شمېر استثاوې د پلي کېدو وړ دي، له هغې ډلې هغه کاري فرصتونه چې له 16 کلونو څخه د کم عمر کسانو ته له نظارت پرته لاسرسی، هغه اشخاص چې د ودې په برخه کې معلولیتونه لري او یا زیان منونکي لویان پکې شامل دي.

**ګومارونکي مسوولیت لري چې:**

د متقاضیانو له سکرینینګ وروسته د جرمي سوابقو ارزونه د لږ تر لږ صلاحیتونو لپاره ځنډنی کړي

د یوه داسې نامطلوب عمل له ترسره کولو وړاندې چې یوازې د جنایي سوابقو د ارزونې پر بنسټ ترسره کیږي، طرزالعملونه وڅارئ:

» د جنايي سوابقو د معلوماتو د تشریح او یا سمونې لپاره فرصت برابر کړئ

» دا بست لږ تر لږه د دوو کاري ورځو لپاره پرانیستی پرېږدئ

» قانوني سوداګریز دلیل ولرئ چې د شخص ګمارل کار او بار ته زیان رسوي او یا د کار د ترسره کولو لپاره د کار کوونکي په ورتیاوو باندې اغیز کوي

## د معاش غلا

### د معاش د غلا پر وړاندې د خوندیتوب وړاندې کړئ

کار ګمارونکي باید د قرض دار ټول تاوان د معاش په یوه معمولي ورځ کې ادا کړي او کار کوونکو ته په لیکلې بڼه د خپلې دندې او معاش په اړه معلومات ور کړي.

**په لیکلې بڼه معلوماتو کې باید لاندې موارد شتون ولري:**

- د ګمارونکي نوم او د اړیکو معلومات
- د کارکوونکو د معاش اندازه، د اضافه کارۍ د ترلاسه کولو لپاره په شرایطو برابرېدل، د ادایني بنسټ (ساعت، نوبت ورځ، اونۍ، کمېشن) او د منظمې ادایني ورځ
- د ګومارونکي د انعام د پالیسۍ تشریح
- د ادواینو په ورځ کې د ادایني د معلوماتو تفصیلي بیانیه

**د ادینې د یو شمېر اړینو الزاماتو بیلګې:**

- د لږ تر لږه معاش ادا کول
- اضافه کاري ادا کړئ
- د استراحت د وختونو لپاره اداینه ترسره کړئ
- ژمنه شوې پیسې ادا کړئ
- له کار پرته ساعتونو لپاره اداینه ترسره کړئ
- انعامونه ادا کړئ
- د خدمتونو د لګښتونه اداینه (پرته له دې چې په رسید او یا مینو کې هغه کار کوونکي ته چې پیرودونکو ته خدمتونه وړاندې کوي د نه ادایني په توګه ذکر شوي وي)
- د کار ګمارونکي لګښتونه جبران کړئ
- په ناسم ډول د کار کوونکو نه ډلبندي کول

## کار ته د تګ راتګ ګټې

ګومارونکي باید 20 کار کوونکي او یا له هغې څخه زیاتو ته چې په اوسط ډول په اونۍ کې له لسو ساعتونو څخه زیات کار کوي،د کار کوونکي د مالیاتو په ګډون له معاش څخه د لیږد رالیږد یا وانپول د لګښتونو کسر د فدرال د مالیاتو له قانون سره تر لږ تر لږه مجازي کچې پورې و رسوي. له دې اړتیاوو سره د برابرېدو لپاره، کیدای شي ګومارونکي د دې پر ځای چې د لیږد رالیږد یو پاسپورټ وړاندې کړي چې په بشپړه او جزئي توګه مالي ملاتړ لري. ګمارونکي باید دا ګټې د کالیزې په 60 ورځو کې د کار کوونکي د کار له پیل وروسته وړاندې کړي.

## له OLS سره په اړیکه کې شئ

**کار کوونکي**
له OLS سره شکایت ثبت کړئ او یا په محکمه کې صورت دعوا پرانیزئ

**ګومارونکي**
د مطابقت کولو او یا زده کړو مرسته ترلاسه کړئ.

**206-256-5297**
www.seattle.gov/laborstandards

810 THIRD AVE, SUITE 375
SEATTLE, WA 98104

LABORSTANDARDS@SEATTLE.GOV